ژباړه: فرهاد ویاړ

۰۴ سپتمبر ۲۰۱۱



زما ګیتار!
فرهاد ویاړ
خپرندویه : سیند خپرندویه
وب لاګ:ketabtoon.blogspot.com

# زما ګیتار

دا ټولګه د افغانستان نومیالي او تلیاد مبارز
او انقلابي لیکوال، شاعر او مورخ، **داد نوراني** ته ډالۍ کوم.

**سندرغاړی په قفس کي بندي کولی شئ یا یي هم وژلی شئ،**
**خو آواز یي وژلی نشئ!**
**ویکتور خارا**


**سرلیکونه**
**سریزه**
ویکتور خارا، د انقلاب ترانه ویونکی
مانیفست(۱)
مانیفست (۲)
تا ته دي درناوی وي، ای کارګره!
ته مي په یاده یي آماندا! (۱)
ته مي په یاده یي آماندا! (۲)
تراني، ته څه نیمګړی یي!
د چیلي سټډیوم
مینه
د «چه» لپاره مرثیه
د کار په لاره کي
زمونږ تاتوبی
متحد ولسونه
د ولس توپانونه
هیله
د رڼا ډک باغونه
هر ځوک هم رزمه، هم قهره، هم رنځه لري
کارمینستیا، چا ووژله؟
د معدنچیانو څټک
د سولي ترانه
د ژوندانه حق
ګامونه
د پوکونو په دره کي
د ولس زوي
ګیتار

## سریزه:

له ډیرې مودې راپدیخوا مې په پام کې وه چې د انقلابي او ولسي موسیقی په اړه یو څه کار وکړم. له هغه ځایه چې په خپله د موسیقی له شکل او فورم سره پیژندګلوي نلرم، ومې پتییله چې په دې برخه کې د منځپانګې او ماهیت او مضمون له پلوه لاس په کار شم. دا پیل، نه د کومې سلیقې او تفنن له امله، بلکې د هغې اړتیا له کبله تر سره کیږي چې زموږ ننۍ ټولنه ورسره مخامخ ده: افغانستان یو ځل بیا د هغو نیواکګرو د استعمار لاندې دی چې له هیڅ ډول جنایت څخه ډډه نکوي؛ زموږ خوستۍ میندې او خویندې په سپو داړي؛ په کندهار او هلمند او زابل او کنړ کې د افغانانو له جسدونو سره لوبې کوي او په ارزګان، فراه، هرات کې هره ورځ زیارکښه ولس په بمباریو کې وژني. له بلې خوا طالبان په انتحاري بریدونو کې ویر زیږوي او جهادیان لا په خرمستۍ او جنایتونو کې ډوب دي؛ او...

او په همدې جنایتونو کې زموږ هنرمندان او په تیره بیا سندرغاړي، د دې په ځای چې د ویکتور خارا، میکیس تئودوراکیس، جوان بایز، باب مارلي، جان لنون، پینک، ادت پیاف، کریس دي برګ، باب دیلون، تریسي چمپین، هیزل ډیکنز او نورو نومیالیو سندرغاړو په شان د جنایتونو په وړاندې فریاد پورته کړي، لا په سپکې مینې کې لتاړ او د ځان پلورنې وړم یې کرکه راپاروي. زموږ هنرمندان په ډیره آسانۍ خپل وجدان او ضمیر هغو جلادانو او قاتلانو ته پلوري چې د تاریخ هره پاڼه یې په جنایتونو لړلې ده.

په داسې شرایطو کې چې موسیقی د سرکاري، جهادي او استعماري هنرمندانو لخوا ککړه شوی، ښایي په دې ډګر کې د نړۍ د انقلابي او ولسي موسیقي په معرفی سره، د هیواد ځوانان او پیغلې او په ټولیزه توګه د موسیقی پلویان د هغو تلپاتو ترانو سره آشنا کړو چې د ښکیلاک، زبیښاک، ستم، تیري او قتل په وړاندې اعتراض کوي او د اعتراض تر څنګ د مینې، هیلې او عاطفې لمبې په تیارو کې بلوي؛ څو په تررمو کې د ژوندانه لاره انځوره کړي او د آزادۍ د بلیندې بلکه روښانه پاتې شي.

په همدې موخه ما د لومړني ګام په توګه هڅه کړې چې د چیلي محبوب ترانه ویونکی، ویکتور خارا د لومړي ځل لپاره د پښتو موسیقی ته معرفي کړم. د ویکتور خارا د پیژندګلوۍ لپاره مې د میرمن مریم ناصحي لیکنه (ویکتور خارا، د انقلاب ترانه ویونکی) غوره کړی، خو باید یادونه وکړم چې په دې لیکنه کې د راغلیو ترانو ژباړه له هغې ژباړه سره یو څه توپیر لري چې ما د بیلابیلو ملګرو او په ځانګړي توګه د یوه اسپانیوي دوست په مرسته، ژباړلي دي.

د ټولو منندوی یم!

ف. ویاړ

# ويکتور خارا، د انقلاب ترانه ويونکی

**د ډيرو نورو په څير مې**
**زده کړل چې خوله تويېه کړم**
**په دې پوه نشوم چې ښوونځی څه ته وايي**
**لوبه يعني څه**
**په يوه سهار کې يې،**
**له خپلې برستنې راوويستم**
**او د پلار سره اوږه په اوږه،**
**له کار سره لوی شوم.**

د ويکتور خارا لپاره، ګواکې ټول شيان له سپتمبر سره ګډ شوي وو. د سپتمبر له ورځو څخه يوه ورځ وه چې نړی ته راغی. د سانتياګو هوا سړه وه. د سانتياګو په ژمني يخني کې، د ښار په څنډې کې، آماندا په سړې او تورتمې جونګړه کې درد درلود، د ويکتور د زيږيدنې درد. مانوئل، د آماندا کارګر او بيوزله خاوند، د قابلې په لټه کې وو. خو آماندا دومره درد وزغمو چې بالاخره يې ويکتور ليديو خارا ماتينز نړۍ ته راوړ؛ د ۱۹۳۲ کال د سپتمبر درې ويشتمه وه.

کلونه وروسته، بيا هم د سپتمبر له ورځو څخه يوه ورځه وه چې توپونو او شوبلو د سانتياګو په واټونو کې پريډ وهو او د سالوادور آلنده د دولت په ضد يې د بريالی کودتا خبر ورکاوه. د سپتمبر دا ورځ، د هغه بلې په خلاف، دومره سړه نه وه؛ که څه هم د جنرال پينوشه او د هغه تر فرمان لاندی د پوځ د وينو ډکه کودتا، تلله چې پر چيلې د مرګ سوړتيا واکمنه کړي؛ د ۱۹۷۳ کال د سپتمبر يوولسمه وه.

مانوئل، يو دياړي مار کارګر وو. کومه ورځ چې به يې کار وموند، نو يوه مرۍ ډوډۍ به يې له ځان سره کور ته راوړله او په کومه ورځ چې به وزګار پاتې شو، تش لاس او ټيټ سر به کور ته راستنيدو. آماندا هم البته چې وزګاره نه پاتی کيده. د کورنی د ستونزمن ژوند د تيرولو لپاره، هغې هم هر کار ته اوږه ورکوله. نه يوازې هغې، چې آن شپږ کلن ويکتور هم کار کاوه او د کورنی سره يې مرسته کوله. ويکتور لا ماشوم وو چې مانوئل کور او کورنۍ پريښوده؛ په دې هيله چې په کروندو کې کار ومومي او کورنی ته پيسې ولېږي. يوه خوشی او بی پايه هيله! مګر په کروندو کې د کار سره هغه څومره پيسې پيدا کولی شوی چې يو څه يې کورنۍ ته ولېږي؛ په تيره بيا چې مانوئل د ژوند په سختو کړليچونو کې په الکولو هم روږدی شوی وو. له څه مودې وروسته دا اړيکه په ناچارۍ پرې شوه او آماندا پاتې شوه او اولادونه. نوی ژوند پيل شو. آماندا د ويکتور او د خپلو نورو اولادونو پالنه په يوه ځان په غاړه واخيسته. هغې هيله درلوده چې ماشومان يې د زده کړې لاره ونيسي. آماندا د سخت او بيرحمه ژوند سره سره، نرمه او هنرمندانه روحيه درلوده. ګيتار او پيانو يې غږول او د نورو کارونو تر څنګ، هر کله به چې موکې په لاس ورتلله او وخت به ورته برابريده، د خلکو د ودونو او وير په مراسمو کې به يې فولکلوريکي تراني ويلې.

ورځې يو په بل پسې تيريدلې او ستونزمنو کارونو د آماندا دردمن ځان اوبه کاوه. له سهاره تر ماښامه پورې يې کار کاوه چې د خپلې کوچنې کورنی لګښت پرې کړي. کله چې له کار څخه ستومانه کور ته رارسيده بل څه يې نشو کولای، مګر دا چې خپل زوړ ګيتار په څنګل کې ونيسي او خپل اولادونه شاوخوا راټول او هغوی ته ګيتار وغږوي او ترانې ووايي. او همدا وو چې ويکتور له ګيتار او ترانې سره آشنا شو. آماندا به ګيتار وهو او ترانې به يې ويلې او د ګيتار او ترانو غږ به د ويکتور په وينو کې لکه ځاځکي بهيدل. خو افسوس، ستونزمنو کارونو او ملاماتونکي ژوند، د آماندا عمر راالنډ کړ. آماندا مړه شوه، او په دې وخت کې ويکتور يوازې پنځلس کلن وو. ويکتور، نه يوازې خپل مور، بلکې خپله ښوونکې او ګرانه ملګرې او خواخوږې له لاسه ورکړه.

له يوې کوچنې بيوزلې کارګرې کورنی څخه، مور مړه شوی وه او پلار که لا هم ژوندی وو، په کار او الکولو کې ډوب وو او له خپلو ماشومانو يې خبر نه درلود. خو ويکتور، هغوې (آماندا او مانوئل) هير نکړل. د آماندا او مانوئل زوي، کله چې لوي شو او په دې وتوانيد چې ګيتار په څنګل کې ونيسي او ترانه ووايي؛ «ته مې په ياده يې، آماندا!» ترانې سره يې د خپل مور او پلار خاطره تلپاتې کړه. دا ترانه ويکتور، اروپا ته د سفر په ترڅ کې وويله. د دې ترانې مهربانه راوي په خپله ويکتور وو او په ډيره مينه د دوو

ځوانو کارګرو، میرمن او خاوند، آماندا او مانوئل، کیسي بیانوي. دا ترانه د کارخاني د کارګرانو د لنډې شیبي په دمه کي د مانوئل د لنډې لیدني لپاره د آماندا له لیوالتیا څخه روایت کوي. مانوئل، د خپل زوي په ترانه کي هغه کارګر نه دی چي د ژوند په سختو کړلیچونو کي پر ځمکه ولیدلی او الکولو ته یې پناه وړې ده، بلکي هغه مبارز کارګر دی چي د مبارزې لپاره غورنو ته ځي او کله چي د کارخاني زنګ وهل کیږي، هغه هم د نورو ډېرو کارګرانو په شان کارخاني ته نه راستنیږي. آماندا او مانوئل د خپل زوي په ترانه کي تر آسمانه پورې ځانګونه وهي او له هغه ځایه خپل کړېدلي زوي ته ګوري. هغوي همدا شان د کارګرو او زیارکښو انسانانو د ستاینې لپاره؛ د خپل زوي ګیتار او ترانو ته د هیلي او آرزو سره په حیرتیا ګوري.

**ته مي په یاده یې، آماندا**
**واټ لوند،**
**په منډه منډه رهي د کارخاني په لور**
**چېرې چي مانوئل کار کاوه**

**پر شونډو دې مسکا خپره ده**
**باران دې پر ویښتو وریدلی،**
**او څه درته مهم نه وو**
**رهي وې چي له هغه سره وګورې**
**له هغه سره، له هغه سره، له هغه سره.**
**یوازې پنځه دقیقي،**
**ژوند په پنځو دقیقو کي تلپاتی**
**د کارخاني زنګ وهل کیږي**
**او کار ته ستنیدل بیا پیلیږي.**
**او ته ګام په ګام**
**پر توپلو رڼا شیندې**
**او هغه پنځه دقیقي**
**تا غړوي.**
**ته مي په یاده یې، آماندا**
**واټ لوند،**
**په منډه منډه رهي د کارخاني په لور**
**چیرې چي مانوئل کار کاوه.**

ویکتور په ځوانی کي، لومړی د حسابداری په رشته کي زده کړې پیل کړی، خو ډیر زر له دې کار څخه لاس په سر شو او مدرسي ته لاړ. غوښتل یې کشیش شي. خو ځو کاله وروسته له مذهبی اوهامو هم بیل شو او دیني مدرسه یې پریښوده. دې کارونو د هغه هڅونکی او سرغړونکی او معترض انساني طبیعت نشو ارضا کولی. نو ننداری (تئاتر) ته یې مخه کړه او په څنګ کي یې په ترانه ویلو هم پیل وکړ. په دې پړاو کي، ویکتور مخکي له دې چي د خپل زوکړې ښار ته ستون شي او په تئاتر او ترانې کي خپلې لیوالتیا ته ادامه ورکړي، څو کلونه یې په پوځ کي هم تیر کړل. هغه په ژوره توګه د چیلي او لاتیني امریکا د فولکلور او په تیره بیا د وایولتا پارا، یوپانکو او پابلو نرودا په شان هنرمندانو تر اغیزې لاندې راغلی وو. خو دا آماندا وه چي پر ویکتور یې د ګیتار او خپلو ترانو سره ډیره ژوره اغیزه درلوده او د هغه د راتلونکي ژوندانه لاره یې هواره کړی وه. همدې کار (تئاتر او ترانې) د هغه نازک، حساس او سرغړونکی طبیعت راضی کاوه. په دې سره یې کولای شول د کارګرانو او زیارکښانو ژوند، د هغو د ژوندانه کړاونه او رنځونه، د هغوی سترې او کوچنی هیلي؛ د ننداری پر ستیج ویسي او په خپلو ترانو کي فریاد کړي.

**ما د ښاغلیو ژبه یاده کړه**
**همدا ډول د ملکانو او اربابانو ژبه**

**دوي زه اکثراً ووژلم**
**ځکه، ما د هغوي پر ضد**
**خپل آواز اوچت کړ.**

د ۱۹۶۰ لسیزې لومړي کلونه ول چي ویکتور اروپا ته سفر وکړ. د اروپا او امریکا د راک موسیقي په هغو کلونو کې ورځ تر بلې راډیکاله کیدله او د «اعتراض موسیقی» نوم یې پر تندي نغښتی وو. په چیلي کې هم د موسیقی نوې بنې تجربه کیدلې. د «ایتنی ـ للیمانی» او «کویلاپایون» په شان ډلو په موسیقی کې د چیلي د کارګري او کلیوالو سیمو خلکو د هیر شویو آوازونو او سازونو د کارولو سره ډېره لیوالتیا درلوده او د هغوی له ژوند او مبارزې څخه یې په موسیقی کې کار اخیست. په موسیقی کې دا انقلاب، یوازې چیلي پورې محدود نه وو، بلکي د لاتیني امریکا پراخې برخې یې پوښښ لاندې وې او د دې سیمې په سیاسي او ټولنیز تلاطم کې ریښې درلودې. لاتینه امریکا، په دې لسیزه کې له غورځنګونو ډکه وه. خلکو آرام او آرامتیا نه درلوده او هره ورځ د یو نوي انقلاب او کودتا، چې د وینو ویالې یې تویولې او ګڼ شمیر خلک یې په ځان کې ډوبول، شاهد ول. ویکتور له دې نارامې وضعې څخه اغیزمن وو او له هغې یې رنګ اخیست. اروپا ته په سفر کې وو چې وې ویل: **:«« د اعتراض موسیقي» نور نشي کولای ګټوره وي، ځکه چې په دې شرایطو کې د هغې مانا او مفهوم له منځه تللی دی. زما په اند نور باید د «انقلابي غږ» له اصطلاح کار واخلو.... یو هنرمند باید د اعتماد وړ پنځونکي او په پرمختللي بڼه کې باید یو انقلابي وي... هغه څوک وي چې د وسلوالو چریکانو په شان د واکمن نظم لپاره خطرناک وي، هغه هم له ولسونو سره د ټینګو اړیکو له لارې.»**

ویکتور چې فولکوریکه موسیقي له خپلې مور زده کړې وه، دا یې هم په خپلې زده کړې ورزیاته کړه چې له خپل ګیتار او ترانو څخه د ستمګرانو په ضد او د خلکو د رنځ او بیوزلۍ پای ته رسولو په موخه د وسلې په شان کار واخلي. په یو ځای کې لیکي: **« له هغې وروسته مې چې نړۍ ته سترګې خلاصې کړې، په خپل هیواد چیلي کې د ټولنیزې بی عدالتۍ، بیوزلۍ او بدمرغۍ شاهد یم. همدا یې لامل دی چې خلکو ته د سندرغاړې اړتیا احساسوم. زه پیاوړی باور لرم چې انسان د خپل ژوند په بهیر کې باید د عدالت لپاره مبارزه وکړي، څو آزاد شي.»**

ویکتور د خپلو هڅونکو ترانو سره کوښښ کاوه چې د چیلي کارګر، زیارکښ او محروم ولس د خپل دوزخي وضعیت په ضد و هڅوي او د پابلو نرودا په وینا: د هغوی خوندي هیلې خړوبې کړي. د دې هڅونې لپاره یې سرتیرو ته داسې نصیحت کاوه:

**ای سرتیری پر ما ډزې مه کوه...**
**زه پوهیږم چې لاسونه دې رپیږي...**
**ما مه وژنه!**
**زه ستا ورور یم.**

ویکتور خپلې لومړنی ثبت شوی ترانې په ۱۹۶۶ کال کې خپرې کړې. په همدې کال کې د «کویلا پایون» ډلې سره یوځای شو او د ۱۹۶۹ کال پورې یې د دې ډلې د هنري مدیر په توګه فعالیت وکړ. یو کال وروسته، چه ګوارا په بولیویا کې ووژل شو. ویکتور د چه ګوارا په ویر کې یوه ترانه وویله، خو د ثبت د کمپنی د مخالفت له امله، په ترانې کې د دې مبارز نوم ته د مستقیمې اشارې شونتیا نه وه. خو سره له دې، دې ترانې د چیلي پر کینو فعالینو او خلکو باندې ډېره اغیزه وکړه. ۱۹۶۹ کال، د چیلي دولت په ضد د سیاسي ځواکونو د فعالیت یو ډیر مهم تاریخي کال وو. په دې کال کې د چیلي د کورنیو چارو وزیر، پرس سوخبیس پولیس ځواکونو ته دستور ورکړ چې پر هغو کارګري او زیارکښه کورنیو برید او نابودې یې کړي چې په «پورتو مونت» کې ځان ته کورونه جوړ کړي ول. د پولیسو په دې جنایتکارانه برید کې د نهه میاشتني ماشوم په ګډون اوه کسان ووژل شول. چیلي قهرجنه وه. ویکتور د دې جنایت په اړه د «پورتو مونت په اړه پوښتنې» په نامه یوه ترانه وویله، چې په کې پرس سوخبیس د یو جنایتکار په توګه معرفي کیده:

**د سویل ټول بارانونه**

**ستا د لاسونو د پریمنځلو لپاره په بس ونکړي.**

«د پورتو مونت په اړه پوښتني» په چټکۍ سره په ټولنه کې لاره پیدا کړه او پر شونډو زمزمه شوه. ویکتور نور د محرومو خلکو ګران ترانه ویونکی وو او د چیلي د کارګري طبقې په زړه کې د یو انقلابي مبارز په توګه ځای درلود او همدا کافي وه چې د چیلي ښیي اړخه او پانګواله ګوندونه له هغه کرکه ولري. «د پورتو مونت په اړه پوښتني» د ترانې شهرت لامل شو چې ښیي لاسي ډلې، دا د واکمن نظام ساتونکي، یوه شپه د سړک پر سر پر ویکتور برید وکړي او وې وهي. د ارتجاع د دې کرغیړن برید په برابر کې، دا د ویکتور لوړ فریاد وو چې په چیلي کې یې انګازې جوړې کړې:

**پوښتنه مې دا ده**
**هیڅکله مو فکر کړی چې دا ټاټوبی زمونږ دی**
**د هغه چا دی چې لویه برخه یې په اختیار کې لري**
**دیوالونه رنګ کړه**
**دیوالونه رنګ کړه**
**دا ټاټوبی زمونږ دی.**

په همدې کلونو کې له سوسیالیزم سره د ویکتور آشنایي، د هغه پر فکر او ژوند ژوره اغیزه وکړه او د چیلي د کمونیست ګوند سره یوځای شو. د امریکا د متحدو ایالتونو «د خلوت انګړ» باندې د لاتیني امریکا د بدلولو په ضد د «انقلابي غږ» د هنرمندانو مقاومت، د ویکتور ترانو ته د آزادۍ او عدالت په لاره کې امپریالیستي ضد هویت وروبخښو. هغه به ویل: «**زه په دې باور نه یم چې د انقلابي سندرغاړي مانا یوازې د سیاسي سرودونو له ویلو سره مترادف وي، بلکې انقلابي توب د امپریالیزم له داړلو څخه د خلکو د ارزښتونو ژغورل دي.**» په ۱۹۶۹ کال کې، کمونیست ګوند، د سوسیالیستونو او د چیلي نورو کیڼ اړخو ډلو په شمول د «ولسي اتحاد» (United Popular) په نامه د یوې ټلوالې بنسټ کېښود. دا ټلواله یو کال وروسته د چیلي د ولسمشرۍ لپاره د خپل نوماند په توګه د سالوادور آلنده په معرفي کولو سره، ټاکنیزو سیالیو کې ورګډه شوه. ویکتور چې تر دې وخت پورې د خپل فعالیت ډیره برخه په تئاتر کې متمرکزه کړې وه، د دې په پوهیدو سره چې تئاتر د پراخو مخاطبینو په موندنې کې محدودیتونه لري او له موسیقۍ سره کولای شي د ولسي پرګنو سره پراخې اړیکې ټینګې کړي، په ۱۹۷۰ کال کې تئاتر خوشې او ځان او خپلې لمبه وهونکې او هڅونکې ترانې او همدا ډول ګیتار یې د چیلي د بیوزلو خلکو د مخ په ودې انقلابي غورځنګ لپاره وقف کړ.

**زما شعر د هیڅ چا په مدحه کې نه دی**
**زه د دې لپاره شعر نه وایم چې پردی وژاړي**
**زه د خپل ټاټوبي یوې کوچنې او لرې برخې لپاره شعر وایم**
**که څه هم یوه کوچنې تراږه ده**
**خو ژوروالی یې پای نلري**
**زما شعر د ټولو شیانو پیلامه او پایله ده**
**د میرانی ډک شعر**
**تلپاتی، تاند او هڅانده شعر.**

په ۱۹۷۰ کال کې، د چیلي د ولسمشرۍ په ټولټاکنو کې د سالوادور آلنده له بریا سره، د بیوزلو خلکو په زړونو کې د هیلې رڼاوې ځړیکې ووهلې. ویکتور هم، د ټولنې د نورو ډیرو سوسیالیستو او کیڼ اړخو ځواکونو او فعالینو په شان، له سالوادور آلنده څخه ملاتړ وکړ. د هغه په ټاکنیزو سیالۍ کې یې شتون درلود او په کراتو یې ترانې وویلې. «موږ به بریالي شوو» معروفه ترانه، ویکتور په همدې وخت کې وویله، چې د چیلي د کیڼ اړخو د یووالي په شعار بدله شوه:

**موږ به بریالي شوو**

**ځنځیرونه به له شلیدلو پرته بله چاره ونلري**
**موږ به د یو بل تر څنګ تاریخ په حقیقت بدل کړو**

د سالوادور آلنده بري په ټولنه کې د یو شمیر سیاسي او اقتصادي بدلونونو سربیره، زیاتي کلتوري او هنري پایلي هم له ځانه سره لرلی. هغه وخت، ګڼ شمیر د تئاتر او موسیقی ډلي جوړیدی او د هنري برنامو د اجرا لپاره د چیلي بیلابیلو سیمو، عمدتاً کارګر میشتو سیمو ته به یي سفرونه کول. د «نوی ترانې غورځنګ» په شان حرکتونه په همدې وخت کي رامنځته شول. ویکتور د دې نوي حرکت یو تن بنسټ اېښودنکی او فعال وو. په دې وخت کې، د نړۍ د ادبیاتو مهم آثار د ارزانه کاغذونو پر مخ په دومره بیه چي آن یو کارګر او زیارکښ یي هم د پیریدلو توان درلود، عرضه کیدل. د هغه کارګر او زیارکښ لیدنه چي لیک او لوست یي کولای شو او په بسونو کي د جک لندن، توماس مان، داستایوفسکي یا د مارک تواین داستانونه لوستل، د چیلي د هغو ورځو یوه عادي پدیده وه. د ښه ژوند شور او شوق ټوله چیلي نیولې وه. انځورګرانو د سانتیاګو پر دیوالونو انځورونه کاږل، شاعرانو خپل شعرونه خلکو ته لوستل، د تئاتر د سالونونو ورونه د کوڅې او د واټونو د خلکو پر مخ پرانیستل شوي ول؛ او ویکتور هم په پاریدونکي حالت د خپل ګیتار سره د لیوالو خلکو ګڼي ګوڼي ته ترانې ویلی. خو دا پارونکی ژوند، دا نوی ژوندون، د ټولو نیمګړتیاو او ستونزو سره سره، یوازې درې کاله وو او بالاخره د لاتیني امریکا د ټولو دموکراتیکو او آزادي غوښتونکو غورځنګونو برخلیک د چیلي ګریوان هم ونیو: **کودتا!**

**زه د دې لپاره ترانه نه وایم**
**چي د ترانې ویلو مین یم**
**یا دا چي خپل غږ نور ته وښیم**
**یوازې د دې لپاره ترانه وایم**
**چي ګیتار مي د دې کار لپاره خپله انګیزه لري؛**
**هغه ګیتار چي خاورین زړه لري**
**او د کوترې په شان الوزي**
**او د پاکو اوبو په شان له لوړې راتوییږي.**
**زه د دې لپاره ترانه وایم**
**چي غږ مي د بیان لپاره انګیزه پیدا کړې**
**څرنګه چي «ویولتا پارا» ویل،**
**هو! زما ګیتار کارګر دی**
**سمسور دی، وږمه وهونکی، پسرلی دی.**
**دا د شتمنو ګیتار نه دی**
**چي د قدرت او پیسو، حرص او طمعه ولري**
**زماګیتار یوازې د کارګرانو ګیتار دی**
**زه د ساتیرۍ او ښادۍ لپاره ترانه نه وایم**
**د دې لپاره ترانه نه وایم چي پردي وژړوم**
**یوازې د خپل ټاټوبی د لیرې سیمو هغو بربندو انسانانو ته ترانه وایم**
**چي د ګړنګونو په ژورتیا کي ژوند کوي.**
**پر هغه ځمکه چي مونږه په کې ژوند پیلوو**
**پر هغه ځمکه چي مونږه په کې ژوند پای ته رسوو**
**زړورې ترانې،**
**تل نویو فریادونو ته د زیږیدني شونتیا برابروي.**

دې ترانې چي «د خارا مانیفست» نوم واخیست، د جنرال پینوشه له کودتا څه موده وړاندې ویل شوی وه. د خارا انګلیسی میرمن، یوان ترنر، له قوله ویل کیږي چي ویکتور دمخه پوهیده چي په کودتا کي به ووژل شي او له همدې کبله یي خپل «مانیفست» ووایو.

د ۱۹۷۳ کال د سپتمبر په یوولسمه نیټه، ویکتور خارا له خپل کور څخه راووتو څو د خپلي دندي لپاره فني پوهنتون ته ولاړ شي. په واټونو کې ځیني کسان په منډو منډو یوې خوا بلې خوا تلل. ویکتور له عمومی ور څخه پوهنتون ته ورننوت. ټول راغونډ شوي محصلین د پوځ د شوبلو او توپونو مقابلي ته چمتو ول. محصلینو پر پوهنتون د پوځیانو لومړی برید پر شا وتمبو. د ښادی کوکاری هوا ته پورته شوی. خو کله چې شوبلي په حرکت شوی او د هغوی اوږدي شپیلۍ د پوهنتون دیوالونه تر هدف لاندې ونیول؛ کله چې لومړنی توغندی وتوغول شو او دیوالونه راوغورځیدل؛ د ښادی او هلهلي د هغه فریادونو او آوازونو ښښي نښاني پر ځای پاتی نشوی. وسله والو سرتیرو بیا یرغل وکړ او دا ځل د پوهنتون انګړ ته راننوتل. هغو کسانو چې لا مقاومت کاوه، ووهل شول، په وینو لت پت او ککړ شول او بالاخره لاس تړلي، په داسي حال کې چې د سرتیرو د ټوپک سرې شپیلۍ د خپلو څټونو تر شا حسولې، بندیخانو ته ویوړل شول. ویکتور هم د هغوی په منځ کې وو. د ویکتور غږ چې له آماندا سره یې فریادوه، غوږونو ته راورسید:

**زویه، مور دې روانه شوی**
**هغوی پراخه واټ مخې ته لري**
**او په چټکو ګامونو سره د جوارو له کروندو تیریږي**
**راشه، له ما سره راشه**
**چې دا پراخه واټ شا ته پرېږدو**
**بله راتلونکی د زیږیدني په حال کې ده.**

ویکتور د زرګونو نورو سیاسي فعالینو سره ونیول شو. کارخاني او د مقاومت ټول مرکزونه بمبار شول. سالوادور آلنده د ولسمشری په دفتر کې د کودتاچیانو د یرغل په وړاندې مقاومت وکړ او د ولسمشری پر ماڼۍ د پوځي شوبلو او الوتکو د درني بمبارۍ له امله مړ شو. یوان ترنر، د ویکتور میرمن، همدا چې د هغه له بندي کیدو خبره شوه د مرستي لپاره د انګلستان سفارت ته ولاړه؛ خو د انګلستان د سفارت دروازه د نورو هیوادونو د سفارتونو په شان د هغي او د زرګونو نورو انسانانو په مخ چې د سانتیاګو د وینو له سیند څخه تښتیدلي ول، تړل شوی وه. د پینوشه متحدینو (د چیلي د خونړۍ کودتا سمبالونکي) د کودتا د وروستی پردې، یعني د کارګري طبقي او د محرومو خلکو د سختو ځپلو انتظار درلود. د هغو خلکو فریادونه چا نه اوریدل چې په بیلابیلو وسلو سمبال شوي پوځیانو د شوبلو او توپونو له وحشیانه یرغل څخه تښتیدل. د دموکراسۍ مدافعینو خپل غوږونه بند کړي ول، څو کودتا د محرومو خلکو د وینو په سیند کې او د بندیانو د جوپې پر څپو آرامه شي او ساحل ته ورسیږي.
ویکتور او زرګونه نور کسان یې ملي لوبغالي ته ویوړل. د ویکتور لپاره دا یو عجیبه غونډې حکایت ته پاتې کیده. دا لوبغالی له درې کلونو راپدیخوا د «ویکتور خارا» لوبغالی نومیده، او اوس یې ویکتور هلته وړی وو. په دې لوبغالي کې ویکتور خارا لاس تړلی تر وهلو او ډبولو لاندې ونیول شو.
هغه کسان چې په دې لوبغالي کې ول او د پوځ د ډله ایزې وژنې څخه ژوندي پاتې شول، کلونه وروسته یې ویل: ویکتور د ټولو شکنجو سره سره، میرنی او اتل پاتی شو، د یوه ښه ژوند لپاره د مبارزې یو سمبول پاتی شو. ترانې یې ویلی، له نورو سره یې خبرې کولی، تسلا یې ورکوله، د مقاومت او مبارزې روحیه یې هڅوله، آن د سپتمبر د یوولسمې په هغه دوزخي ورځ کې د هیلې رڼا یې بلوله. دا هغه کار وو چې ویکتور تل د هغې په هڅه کې وو. کله چې ویکتور خارا د «موږ به بریالي شوو» ترانه فریاد کړه، د کودتا تالي څټو د هغه د دې میرني حرکت څخه قهرجن شول او پر هغه یې برید وکړ. ویکتور یې په وحشیانه ډول ووهو. د هغه د دواړو لاسونو او د پښتی هډوکي مات کړل او په داسي حال کې چې یې د خلکو مخې ته ودرولی وو، فرمان یې ورکړ:«اوس دې ګیتار وغږوه، اوس دې ترانې ووایه!» او په دې ډول یې غوښتل چې دا د مبارزې سمبول، دا د هیلی سمبول مات کړي. غوښتل یې د هغه سپکاوی وکړي، څو نور سرونه راټیټ کړي او د عافیت لاره ونیسي. د دغي دوزخي ورځي شاهدان وایي، ویکتور په ماتو لاسونو خپل ګیتار په څنګل کې ونیو او د «موږ به بریالي شوو» ترانې ته یې ادامه ورکړه. څلوردیرش مردکي، څلوردیرش مردکي د انقلاب د ترانه ویونکي پر تن تشیرې، څو دا انقلابي ترانه پای ته ونه رسیږي؛ څو د هغو زرګونو انسانانو غږ چې په دغه ورځ او دغه لوبغالي کې د خپل محبوب ترانه ویونکي سره دا ترانه ویله، غلی شي؛ څو د کودتا څرخ پای ته ورسیږي.

**د دې ښار په کوچنې ځنډه کې**
**مونږ پنځه زره تنه یو**
**مونږ پنځه زره تنه یو.**
**د خپل ټاټوبي په ټولو ښارونو کې**
**مونږ ټول څومره کسان یوو**
**دلته هغه لس زره لاسونه یوو**
**چې داني کري او کارخاني په حرکت راولي**
**مونږ څومره ډیر یوو**
**له ولږې، یخنی، له درد او ویرې**
**له ډار او جنون سره!**
**د فاشیزم څیره څومره ډارونکی ده**
**خپلې نقشې په ځیرتیا، په ټکی پلې کوي**
**بی له دې چې څه ورته اهمیت ولري**
**وینه، مډال**
**او وژنه، اتلوالي ګڼي**
**خدایه، په رښتیا دا هغه دنیا ده چې تا پیدا کړې؟**
**خدایه، د همدې لپاره دې اووه ورځ فکر او کار وکړ؟**
**د دې څلور دیوالونو تر منځ**
**داسې شمیرې دي چې نور وده نکوي**
**او ورو ورو د مرګ غوښتنه کوي**
**ناڅاپه پر ما هوښیاري یرغل راوړي**
**دا بی څپانده سیند وینم،**
**د ماشینونو نبضونه وینم**
**او هغه سرتیري چې مینه ناکه څیرې لري**
**مکزیک، کوبا او ټوله نړۍ وینم**
**چې د دې بدنامۍ په ضد فریاد کوي**
**مونږ لس زره لاسونه یو چې نور تولید نشو کولای**
**هو، مونږ په دې ټول ټاټوبي کې څو لاسونه یوو**
**زه ترانه وایمه، خو څه یو رنځ دی ترانه ویل**
**کله چې ناچاره یم وحشت آواز کړم**
**هغه وحشت چې په کې ژوند کوم**
**او هغه وحشت چې ورسره مرم**
**زه ځان په بی پایه او بی بریده شیبو کې وینم**
**چې په کې چوپتیا او فریاد**
**د یو سرود غبرګونی پایله ده.**

د ویکتور سورې سورې او شکنجه شوی جسد د دسمبر په شپاړسمه نیټه د یو ځوان کارګر لخوا پیدا شو. همدا ځوان کارګر وو چې د ویکتور له میرمنې سره اړیکه نیسي او د دې انقلابي او محبوب ترانه ویونکي جسد هغې ته سپاري.
یوان ترنر، ویکتور خاورو ته وسپارو او په پټه له چیلي وتښتیده. که څه هم د کودتا دولت د ویکتور خارا د ټولو ترانو د سیزنې دستور صادر کړ، خو یوان ترنر بریالی شوی وه چې د هغه یو شمیر زیاتې ترانې له چیلي وباسي او د انقلابي موسیقۍ د نړۍ په اختیار کې کیږدي.

*                *                *

د ۲۰۰۴ کال په دسمبر میاشت کې، له کلونو وروسته، د یو چیلیایي قاضي لخوا د ویکتور خارا د وژنې دوسیه پرانیستل شوه. له هغې تر اوسه، د ځینې عیني شاهدانو د شهادت سره سم، د ویکتور قاتل پیژندل شوی دی. ادوین دیمتر بیانچي، د کودتا جلاد او د چیلي د پوځ یو افسر، د ویرونکي شهرت سره، د چیلیایي خلکو د محبوب او انقلابي ترانه ویونکي قاتل دی. د اعلام شویو شواهدو له مخې، هغه په ۱۹۷۰ کال کې پانامه ته سفر کړی وو او په یو پوځي ښوونځي کې چې د امریکا لخوا اداره کیده او د لاتیني امریکا پر پراخو پوځونو یې نظارت درلود، پوځي زده کړې پای ته رسولی وی. په دې مرکز کې د چیلي پوځ ټولو زده کړیالانو، د چیلي په کودتا او د خلکو په نابودۍ کې ګډون درلود. ادوین دیمتر بیانچي چې «ال لوکو دیمتر» هم نومیدو، مخکې له دې هم د سالوادور آلنده په ضد په یوې نابریالی کودتا کې ګډون کړی وو. خو نوموړی او ملګري یې چې له دې ناکامې کودتا وروسته ونیول شول او زنداني کړای شول، ډیر ژر خوشې شول چې په راتلونکې کودتا او د خلکو په وژنه کې خپل رول تر سره کړي. د «ویکتور خارا» له لوبغالي څخه د ژوندي پاتې شویو زندانیانو په وینا بیانچي هومره د انقلاب او مبارزې په اړه له کرکې او قهر څخه ډک وو چې ډیر ژر د زیات شمیر زندانیانو تر منځ په «سادیزمي» معروف شو. د دې مسما لقب سربیره، په خپله هغه خوښ درلود چې «پرنس» یا «شازاده» هم ونومول شي. بوریس نویا، چیلیایي وکیل، د کودتا د دې جلاد قهر او کرکه داسې انځوروي: «هغه د لوبغالي په بیلابیلو ځایونو کې په ناڅاپي توګه راڅرګندیدو او په وحشت او هیاهو سره یې زندانیان ډارول. هغه کټ مټ د یو وحشي او ناهیلي لوبغاړي رول لوبو، چې زندانیان ښایې د هغې په شتون کې په بشپړه توګه چوپ او سرونه یې ټیټ وي. په لاس کې یې د څرمني قمچینه درلوده او د هغو زندانیانو تر منځ چې په ساعتونو په ګونډو ناست ول، د قدم وهلو پر مهال یې هغوی پر سر او مخ وهل.» د هغه په اړه دا هم ویل کیږي چې د زندانیانو د کتار مخې ته ودریدو او چیغې به یې وهلې: «زما غږ اورئ چټلو مارکسیستانو؟ ما ته په ډار سره وګورئ، حرمونو، اوس ستاسو د وینا وخت پای ته رسیدلی، یا باید موږ سره کار وکړی او یا باید تاسو اعدام کړو. زما غږ اورئ؟ دا غږ چې اورئ د پرنس غږ دی.»

د کودتا پرنس، چې د ډیرو شواهدو له مخې د زندانیانو په شکنجې او وژنې کې په نیغه لاس درلود، هیڅکله په رسمي توګه په یوې محکمې کې محکوم نشو او په ناڅرګنده دلیل د ۱۹۷۶ کال په دسمبر کې د چیلي له پوځ څخه تقاعد ورکړای شو. وروسته له هغې یې د حسابدارۍ په رشته کې زده کړې وکړی او د پوځ د تقاعد او څارنې په برخې کې په کار وګمارل شو. دا هم د حیرانتیا خبره ده چې هغه د پینوشې د دیکتاتورۍ پر مهال د هغو امتیازاتو څخه ګټه اخیسته چې د قانون پر بنسټ د بشري حقوقو د قربانیانو د حمایت لپاره تصویب شوی وو. دا قانون په واقعیت کې د هغو کسانو د حمایت لپاره تصویب شوی وو چې د پوځي دیکتاتورۍ پر مهال د سیاسي کړنو له امله له خپل کار څخه لیرې کړای شوي ول او بیرته نه استخدامیدل او یا هم د تقاعد حقوق نه ورکول کیدل. د کودتا جلاد د دې قانون له امله د کودتا او پوځي دیکتاتورۍ د قربانیانو له مزایاو څخه د ۲۰۰۰ کال تر جولای پورې ګټه اخیستله.

سره له دې چې د «پرنس» له پیژندنې څو کلونه تیریږي او د هغه هویت ښکاره شوی او په چیلي کې سیاسي فعالینو آن د هغه عکس او پته او د تلفن شمیره خپاره کړي دي، څو د ویکتور خارا او د هغو دوزخي ورځو د نور زندانیانو د وژنې له امله د نوموړي د محاکمې زمینه برابره شي، خو د چیلي نوې دولت دې جنایت ته د رسیدنې لپاره لا لیوالتیا نه ده ښودلې.

عجیبه دنیا ده: د «پرنس» او د هغه د ښکاره او پټو پلویانو سپکه دنیا او د «انقلاب د ترانه ویونکي» او د کارګرو او محرومو خلکو چې هغه ورته ترانې ویلې او لیکلې، پرتمینه دنیا. دوه بیلابیلې دنیاوې په یوه دنیا کې. ښوالی د بدۍ په مقابل کې، کار او زیار د شتمنۍ او زبیښاک په مقابل کې، انقلاب د ضد انقلاب په مقابل کې! په دې عجیبه دنیا کې، وروستی برې د هغو کسانو دی چې دا دنیا یې پر خپلو اوږو نیولې ده؛ دا وروستی بریا د ویکتور ده چې یوازې یې یو ګیتار درلود او یو ټیپي ګوګل او کارګرانو او محرمو خلکو ته له مینې ډک زړه؛ د ویکتور، د سانتیاګو ښار د څنډې د بیوزله کارګرانو (مانوئل او د آماندا) زوی بریا، چې له ماشومتوب څخه یې خپل زړه د مور للوللو ته سپاره چې د کارګرو او بیوزلو خلکو له غمونو او رنځونو ډک وو او دا غمونه د هغه پر کوچنې زړه لکه چاړه لګیدل او هغه یې د همدې خلکو د دفاع په موخه راتلونکو جګړو ته چمتو کاوه. په دې عجیبه دنیا کې، ویکتور دی، چې ژوندی پاتې کیږي او فریاد یې د تاریخ تر پای پورې په بشري وجدان کې انګازې جوړوي او «پرنس» دی چې له تلپاتې کرکې او نفرت څخه بل څه نه ورپه برخه کیږي.

*            *            *

دښمن خپله پښه د میرني پر سر ایښي وه او پر مات شوي ګیتار یې زور کاوه او چیغې یې وهلې:« اوس یې وغړوه! اوس یې ووایه!» ویکتور خپل مات لاسونه پر ځمکې وغزول او خپل مات شوي ګیتار ته یې ورسول. ګیتار یې په ځنګل کې ونیو... په ویلو یې پیل وکړ. ګواکې چې د ټولې چیلې آواز یې په غږ کې راټول شوی وي. لوبغالی، او شاید هم ټوله نړۍ، د یوې شیبې لپاره له حرکته ودریده... او بیا لوبغالي او شاید هم ټولې نړۍ له ویکتور سره ترانه پیل کړه... غلیمان په ویره شول. داسې یې تمه نه درلوده. نه پوهیدل چې څنګه ویکتور کولای شي ترانه ووایه هغه هم په مات شویو لاسونو او شکنجه شوي ځان سره... بیا یې په قهر او غضب سره چیغې کړې: سرتیرو چمتو، هدف!... خو خارا لا ترانه ویله او لوبغالي، شاید ټوله نړۍ له هغې سره سم ترانه ویله... سرتیرو چمتو، هدف!... لمر د «ویکتور خارا» په لوبغالي کې راپورته کیږي او خپلې وړانګې د ویکتور پر لژندې، خو هیله مندې څیرې شیندي.... سرتیرو ډزې! څلوردیرش مرمۍ، څلور دیرش مرمۍ د میرني پر تن ووریدلې... ویکتور پر ځمکې ولوید، سره او توده وینه یې پر ځمکې تویه شوه... خو د خارا د ترانې غږ لا غوږونو ته رارسیږي....

**شعر هغه کوتره ده چې د ځالې په لټه کې ده**
**خوشې کیږي، وزرې وهي چې پرواز وکړي**
**پرواز!**
**زما آواز، آزاده او خپلواکه آواز دی**
**هغه چا ته ډالۍ کیږي چې پاڅیدلی**
**هغه چا ته چې د ابدیت لوړوالی ته د الوتنې هوډ لري**
**زما آواز هغه ځنځیر دی**
**چې نه پیل لري او نه هم پای**
**زما په آواز کې به ټول ولس پیدا کړی**
**پریږده چې له یو بل سره ووایو**
**د ولس سرودونه**
**ځکه چې آواز هغه کوتره ده**
**چې سیند ته د رسیدو لپاره الوزي**
**خوشې کیږي، وزرې وهي چې پرواز وکړي**
**پرواز!**

## مانيفست

(لومړی ژباره)

نه د ويلو لپاره دی چې وايم
او نه هم د دې لپاره چې ښه غږ لرم
زه د دې لپاره ترانه وايم
چې ګيتار مې
احساس لري او سم فکر کوي
د ځمکې په تل کې زړه لري
او د کوترې په شان ځانګونه
لکه اوبو سپېڅلی دی
او وير او ښادۍ ته سپېڅلتيا بخښي.
زما ترانه
ځنګه چې ويولتا ويل
هغه کارګر ګيتار دی
چې له پسرلني عطرونو سره دلته رارسيدلی
زما ګيتار
د شتمنو او حقيرو ګيتار نه دی
زما ترانه
د ودانۍ هغه پوړۍ ده
چې ستورو ته د رسيدنې لپاره يې
جوړو.
ترانه
کله چې په رګونو کې
د هغه چا په تن کې چې د مرګ پر مهال يې زمزمه کوي
جريان ومومي
خپل مفهوم پيدا کوي:
واقعي حقيقتونه
نه غولونکي لمانځنه
يا پردي هڅونه.
ترانه
د ځمکې په ګړنګونو کې هغه قناري ده
چيرې چې ټول شيان هلته ستنيږي
او هر څه له هغه ځايه پيليږي
*
هغه ترانه چې زړوره وي
تل به تانده وي،
تانده!

## مانیفست

(دویمه ژباړه)

نه د ویلو لپاره دی چې وایم
او نه د خپل غږ د عرضې لپاره
نه،
زه هغه شعر د آواز سره وایم چې
زما له احساسه ډک ګیتار یې غږوي
ځکه چې دا ګیتار ځمکنی زړه لري
او مرغې ډوله د الوتنې په حال کې دی
او لکه مقدسې اوبه
میړنې او شهیدان په مهر او مهربانی تعمیدوي
نو زما ترانه
څرنګه چې ویولتا ویل
هدف یې موندلی
هو،
زما ګیتار هغه کارګر دی
چې له پسرلې راځلیږي
او عطرونه شیندي
زما ګیتار
د جنایتکارو دولتمنو
چې د زور او زر حریصان دي
په کار نه راځي.
زما ګیتار
د زیارکښو ولسونو په کاریږي
چې په سرود سره یې
راتلونکې وغړیږي
ځکه چې ترانه هغه وخت معنی پیدا کوي
چې زړه یې په ځواکمنه ډول تپانده وي
او هغه انسان دا ترانه ووایې
چې سرود ویونکې شهادت ومنې
زما شعر د هیڅ چا په مدحه کې نه دی
زه د دې لپاره شعر نه وایم چې پردې وژاړي
زه د خپل ټاټوبي کوچنې او لیرې برخې لپاره شعر وایم
که څه هم یوه کوچنی تراږه ده
خو ژوروالی یې پای نلري
زما شعر
د ټولو شیانو پیلامه او پایله ده
د میړانې ډک شعر
تلپاتې، تاند او هڅانده شعر.

## تا ته دې درناوی وي، ای کارګره !

پاڅه،
غرونو ته وګوره
د باد، لمر او اوبو سرچينې ته
ته هغه څوک يې چې د سيندونو لاره بدلوئ
ته هغه څوک يې چې اروا دې الوزولې شئ
پاڅه،
لاسونو ته دې وګوره
د خپل ورور لاسونه دې ونيسه چې پياوړي شي
مونږ له يو بل سره په خپلو وينو کې متحد ځو
څو راتلونکي
نن لاسته راوړو
او ځانونه د اربابانو له بند نه وژغورو
د هغو اربابانو له بند نه چې زمونږ لپاره بدمرغي او بيوزلي غواړي
خپل راتلونکي بايد په خپله جوړه کړو
د عدالت او برابرۍ ورځ رارسيږي.
*
چيغه کړه، لکه باد
لکه هغه باد چې د غرونو پر سر د وحشي ګلونو څخه تيريږي
زما د ټوپک شپيلۍ د اور په شان پاکه کړه
بالاخره، دا ارباب دي چې په ګونډو به شي
مونږ ته د مبارزې ړوړتيا او ميرانه راوبخښه
چيغه کړه، لکه باد
لکه هغه باد چې د غرونو پر سر د وحشي ګلونو څخه تيريږي
زما د ټوپک شپيلۍ د اور په شان پاکه کړه
پاڅه،
لاسونو ته دې وګوره
د خپل ورور لاسونه دې ونيسه، چې پياوړي شي
موږ له يو بل سره په خپلو وينو کې متحد ځو
همدا نن
او تر مرګه!

# ته مي په ياده يې، آماندا!

(لومړی ژباړه)

ته مي په ياده يې، آماندا!
په  هغه واټ کې چې باران لمده کړی وي
او په بېړه کارخانې ته
چيرې چې مانوئل کار کوي
روانه يې.

تل خندانه يې
باران دې وېښته خيشت کړي
او هيڅ څه درته اهميت نلري
يوازې مينه
مينه، مينه، مينه، مينه!

په څو نورو  دقيقيو کې به د ژوند بشپړ شي
په څو نورو دقيقو کې به زنګونه  په آواز شي
کار، ستا انتظار باسي
ستا له هر قدم سره
لمر شيندل کيږي،
او په څو دقيقو کې
د بدن غنچې دې غړېږي.

ته مي په ياده يې، آماندا!
په  هغه واټ کې چې باران لمده کړی وي
او په بېړه کارخانې ته
چيرې چې مانوئل کار کوي
روانه يې.

تل خندانه يې
باران دې وېښته خيشت کړي
او هيڅ څه درته اهميت نلري
يوازې مينه
مينه، مينه، مينه، مينه!

هغه غر ته لاړ،
چا چې هيڅکله بد نه دي رسولي،
هغه غر ته لاړ،
او په څو دقيقو کې ټول شيان بدل شول.

اوس د زنګونو آوازونه پورته شوي،
کارخانې ته د ستنيدنې وخت رارسيدلی!
ډيری هيڅکله راستانه نشول،
يو يې هم ستا مانوئل وو.

ته مي په ياده يې، آماندا!

په  هغه واټ کې چې باران لمده کړی وي
او په بیړه کارخانې ته
چیرې چې مانوئل کار کوي
روانه یې.

## ته مې په یاده یې، آماندا!

(دویمه ژباړه)

ته مې په یاده یې، آماندا!
واټ لوند،
په منډه منډه د کارخانې په لور
چیرې چې مانوئل کار کاوه.

پر شونډو دې موسکا خپره ده
ویښته دې په باران لامده،
هیڅ څه درته مهم نه وو،
تللې چې له هغه سره وګورې
له هغه سره، له هغه سره، له هغه سره، له هغه سره.

یوازې پنځه دقیقې دمه
ژوند په پنځو دقیقو کې بشپړیږي.
د کارخانې زنګ وهل کیږي
او کار ته ستنیدل بیا پیلیږي
او ته، ګام په ګام
رڼا شیندې،
او دا پنځه دقیقې تا غړوي.

ته مې په یاده یې، آماندا!
واټ لوند،
په منډه منډه د کارخانې په لور
چیرې چې مانوئل کار کاوه.

پر شونډو دې موسکا خپره ده
ویښته دې په باران لامده،
هیڅ څه درته مهم نه وو،
تللې چې له هغه سره وګورې
له هغه سره، له هغه سره، له هغه سره، له هغه سره.
له هغه سره چې پر خاورو ولیدلی،
له هغه سره چې هیڅکله یې زورول نه کول
او اوس پر خاورې ولیدلی
او په پنځو دقیقو کې

نابود شوی.

د کارخاني زنګ وهل کيږي
او کار ته ستنيدل بيا پيليږي،
ډير کسان نه راستيږي،
ستا مانوئل هم نه راستنيږي.

ته مې په ياده يې، آماندا!
واټ لوند،
په منډه منډه د کارخاني په لور
چيرې چې مانوئل کار کاوه.

**ترانې، ته څه نيمګړی يې!**

مونږ پنځه زره تنه يو،
چې د ښار په دې کوچني څنډی کې زنداني يو.
زمونږ پنځه زره تنه يو!
زموږ په شان څومره نور د هيواد په هر ګوټ کې بنديان دي؟

دومره بې شميره انسانان
د ولږې، يخنی، ويرې او له درد سره.
شپږ تنه مو له لاسه ورکړي،
او د آسمان له ستورو سره يوځای شوي.
يو يې مړ شو، بل يې داسې ووهو
چې هيڅکله مې تصور نکوه چې داسې هم يو انسان ووهل شي
څلورو نورو يوازې غوښتل خپلې ويرې ته پای ورکړي
يو يې د مرګ درې ته ولويد
بل يې خپل سر پر ديوال ووهو
خو ټولو په نيغه د مرګ ستر‌ګو ته کتل.

مونږ لس زره لاسونه يو
هغه لاسونه چې نور کار نشي کولای
زمونږ په شان څومره نور د هيواد په هر ګوټ کې بنديان دي؟

هغه وينه چې له ملګري ولسمشر نه تويه شوی
له بم او ټوپک نه ډير ځواک لري
او د دغي ځواك په شان به زموږ موټي هم
يوه ورځ بيرته سوکان شي.

ترانې، ته څه نيمګړی يې!
کله چې اړ يم ودې وايم، ويلی دې نشم
ويلی دی نشم ، ځکه چې لا ژوندی يم
ويلی دی نشم، ځکه چې د مرګ په درشل کې يم.

دا هغه څه دي چې ما ډاروي
او زه ځان په مرګ  او لاپتنهايي شيبو کې پيدا کوم
چيرې چې چوپتيا او فرياد
زما د ترانې هدف دی
څه چې اوس ګورم، هيڅکله مې ليدلي نه دي
څه چې اوس احساسوم او  احساس کړي مې دي
بيا به پسرلني شيبې له ځان سره راولي.

## د چيلي ستېډيوم

دا د ويکتور خارا وروستی شعر دی چې له وژل کيدو يوه ورځ مخکې د چيلي په لوبغالي کې ووايو. دا شعر بشپړ نه دی او آهنګ هم نلري. د يادوني وړ ده چې دا شعر د ليکلو وروسته د ويکتور خارا يو ملګري په خپل بوټ کې پټ کړ او بيا يې د هغه ميرمنې ته وسپارو.

مونږ دلته پنځه زره تنه يو،
دلته، د ښار په دې څنډه کې
مونږ، پنځه زره تنه يو.
او څومره کسان نور  لکه مونږ
په ښارونو او ټول هيواد کې شته؟

مونږ لس زره لاسونه يو،
چې کرل کوي
چې د کارخانو ماشينونه په حرکت راولي،
دومره زيات انسانان
وږي، رپيدلي
له غم سره، له درد سره، له اخلاقي فشار سره، له ويرې سره.

له مونږ څخه شپږ تنه د تل لپاره
له ستورو سره يوځای شول
يو يې مړ شو،
يو يې داسې وهل او ډبول وخوړل
چې ما هيڅکله تصور نه کاوه
چې وکړای شو يو  انسان داسې ووهو.
څلورو نورو
تشې فضا ته په دانګلو سره،
او په ديوال باندې د سر په وهلو سره،
غوښتل له خپلې ويرې خلاص شي.
او ټولو، ټولو  هغو چې سترګې يې
د مرګ په ليدنې
توري شوی
په دې لټه کې دي
چې له ويرې خلاص شي.

د فاشیزم څیره څومره وحشت ایجادوي
خپلې نقشې
په ډیرې څیرتیا پلې کوي
بې له دې چې څه ورته اهمیت ولري؛
وینه، هغوی ته
مډال
او وژنه
اتلوالي ده.

خدایه،
دا هغه دنیا ده
چې تا پیدا کړې؟
آیا د همدې لپاره دې
اووه ورځې کار وکړ او زیار دې وویست؟

د دې څلور دیوالونو تر منځ
یوازې یو څه چې خپګان نه زیږوي:
ورو، ورو د مرګ هیله ده
خو ناڅاپه وجدان مې
راویښوي
او د ماشینونو له ضربان سره
د بې ضربانو زړونو یوه لویه څپه ګورم
او هغه پوځیان چې د مهربانۍ او احساس ډکې څیرې ځرګندوي
پریږدئ چې مکزیک او کوبا او ټوله نړۍ
پر دې ننګین تیري وژاړي.
مونږ. لس زره تولیدونکي لاسونه یوو
چې نور به تولید ونکړای شي
زمونږ په شان په ټول هیواد کې
څو تنه دي؟

د ملګري ولسمشر وینه
چې له بم او مردکي نه درنه ده
پر ځمکه توییږي
خو بیا به زمونږه سوکان راپورته شي!

آه، ترانې
څومره بدرنګه یې!
کله چې باید له وحشته وغریږم
هغه وحشت چې په کې ژوند کوم
هغه وحشت چې په کې مرم
هغه وحشت چې په دې نه ختمیدونکو شیبو کې
ځان په کې وینم
هغه وحشت چې په کې چوپتیا او فریاد د دې ترانې پای ده

هغه څه مې چې هیڅکله نه وو لیدلي،
هغه څه مې چې احساس کړي او احساسوم یې

د خلاصون شيبي به له ځان سره راوړي....

## مينه

له خپلې ميرمنې، اولادونو او کور سره مينه لرم
له هغې ځمکې سره مينه لرم چې د ژوند لپاره راسره مرسته کوي
له زده کړې او کار سره مينه لرم
له ټولو هغه کسانو سره چې خلکو ته په صداقت کار کوي، مينه لرم
له عدالت سره چې د انسان ستروالي ته د تساوي ابزار برابروي، مينه لرم.
د ژوند څخه د خوند اخيستلو لپاره، له سولې او دوستۍ سره مينه لرم
له آزادۍ سره مينه لرم
خو له هغه آزادۍ سره چې د بل د آزادۍ په قربانۍ لاس ته نه وي راغلې
د ټولو لپاره د آزادۍ سره مينه لرم:
د ژوند لپاره، د اولادونو د ژوند لپاره،
په خپل کور کې،
په خپل ښار کې،
په خپل وطن کې،
د خپلو ګاونډيانو تر منځ له آزادۍ سره مينه لرم...
له بندګۍ آزاد
زما لپاره، ستا لپاره
په هغه چاپيريال کې چې د برخليك جوړولو لپاره ورته اړتيا لرو،
له آزادۍ سره مينه لرم.
له آزادۍ سره مينه لرم.

## د «چه» لپاره مرثيه

راغلې يم چې دا مرثيه ووايم
او آزادي غوښتني ته دوه چنده مانا ورکړم
هغوی جنګيالی ووژو
قوماندان چه ګوارا!
ځنګلونه، دښتې او غرونه
مورنۍ ټاټوبی يا محتومه مړينه.

دا بشري حقوق
په ټوله لاتينه امريکا کې
تر پښو لاندې کيږي
هره يکشنبې، دوشنبې او سه شنبې
پوځيان ښارونه تصرفوي
او ديکتاتوران او قاتلان او پوځيان او جنرالان
پر مونږ تپي

هغوی پر بزګرانو او معدنچيانو
او کارګرانو

ډزې کوي
ځومره تريخ برخليك دى
ولړه،
بدمرغي
او درد.

بوليوار لاره انځورکړه
او چه ګوارا په هماغه لاره لاړ
چې زموږ ښارونه د ظالمانو له واکمنتيا آزاد کړي

چه ګوارا، کوبا وویاړله
چې يو آزاده ټاټوبی شي
بوليويا، هم د هغه پر سرښندونکي ژوند ژاړي
بزګران هغه د انځير د ونې سپيڅلی «ارنستو» نوموي

ځنګلونه، دښتي او غرونه
مورنی ټاټوبی يا محتومه مړينه.

## د کار په لاره کې

کله چې د روبرتو آهومادا په نوم د ويکتور خارا يوه کارګري ملګرې د لاريون په ترڅ کې ووژل شوه، ويکتور چې په ښه ډول د آهومادا له ژوند سره آشنا وو، دا مينه ناکه شعر يې د هغه له لورې ووايو.

د ښار په واټونو کې کله چې تيرېږئ
ته مې رايادېږئ
ته مې رايادېږئ
کله چې له هغو خړو پنجرو څخه
د خلکو ځيرو ته ګورم
نه پوهيږم چې څوک دې او څه کوي
يوازې ته مې رايادېږئ
ای زما ميني،
ای زما د ژوندانه يارې
ته مې رايادېږئ
همدا اوس او د تل لپاره
د ژوند په خوږو او ترخو شيبو کې
ته مې رايادېږئ
کار د يوې کيسې له پيل سره
بې د هغه د پای په پوهيدنې سره
کله چې کار پای ته نژدې کيږي
سهار رارسيږي
او په هغو بامونو چې مونږ جوړ کړي
سيورې رڼا کيږي
مونږه له کاره راستنيږو
له يو بل سره بحث کوو
هر څوک خپل دليل وايي

د اوس او راتلونکي لپاره.

ته مې رایادیږئ
ای زما میني،
ای زما د ژوندانه یارې،
ته مي رایادیږئ
همدا اوس او د تل لپاره
د ژوند په خوږو او ترخو شیبو کي
کار د یوې کیسي په پیل سره
بی د هغه د پای په پوهیدني سره.

کله چي کور ته راستنیږم
تا وینم
او مونږ له یو بل سره خپل خیالونه انځورو
هو، کار د یوې کیسي په پیل سره
بی د هغه د پای په پوهیدني سره.

## زمونږ ټاټوبی

پوښتنه مي دا ده:
هیڅکله مو فکر کړی چي دا ټاټوبی زمونږ دی
د هغه چا دی چي لویه برخه یي په اختیار کي لري
پوښتنه مي دا ده:
هیڅکله مو فکر کړی هغه لاسونه چي په دې ټاټوبي کې کار کوي زمونږ دي
او حاصل یي هم زمونږ دی
دیوالونه ویجار او رنګ رنګ کړه
دا ټاټوبی زمونږ دی
د پدرو او ماریا، د خوان او خوزه
که آواز مي ځوروي ځوک
که داسي ځوک وي چي زما د آواز د اوریدلو توان نلري
ډاډه ووسئ چي هغه یو یانکي دی
یا یو مالک او د هیواد لوي فیوډال
دیوالونه رنګ کړه
دیوالونه رنګ کړه
دا ټاټوبی زمونږ دی.

## متحد ولسونه

متحد ولسونه به هیڅکله ماته ونخوري
متحد ولسونه به هیڅکله ماته ونخوري
پاخیږه او ترانهووایه، مونږ به بریالي شوو
د یووالي بیرغونه به رپیدو دي
او ته په لاریونونو کي له ما سره یوځای کیږی

نو خپله ترانه او له غوټیو جوړ بیرغونه به وګوری
د سباوون سره رڼا
د ژوند د راتګ خبر ورکوي
پاڅیږه او مبارزه وکړه
ځکه چې ولسونه به بریالي شي
ژوند به په راتلونکي کې ښه وي
د نیکمرغۍ د لاسته راوړلو لپاره
د زرګونو جنګیالیو فریادونه به اوچت شي
فریاد کړه د آزادۍ ترانه!
د هوډ سره به هیواد بریالی شي
راپاڅیدلی ولس په اوچت آواز فریاد کوي:
مخ په وړاندې!
مخ په وړاندې!
متحد ولسونه به هیڅکله ماته ونخوري...

## د ولس توپانونه

هغوې چې له آزادۍ غږیږي
او ککړ لاسونه لري
بیا په لټه کې دي چې هیواد مې
د کارګرانو په وینې سور کړي.
هغوې چې غواړي
مور له خپلو اولادونو جلا کړي
په لټه کې دي چې بیا
هغه صلیب جوړ کړي چې
مسیح پر اوږو لیږدوي
په لټه کې دي چې هغه بدنامي پټه کړي
چې له پیړیو یې له ځان سره رالیږدوي
خو د قاتلانو د وینو رنګ
به د ولسونو له ځیرو پاک نشي.
هغوې زرګونه زره کسان ول
چې وینه یې ورکړه
او د سخاوتمندۍ په رود کې
ډوډۍ په تساوي وویشله.
اوس نو غواړم
د خپلو اولادونو او ورونو سره
په هغه پسرلي کې چې
په لټه کې یوو د وخت په تیریدو یې سمسور کړو
یو ځای ژوند وکړم
زه له ګواښونو نه ویریږم
ای د بدمرغۍ اربابانو!
زه باور لرم چې د هیلی ستوری
به تل مونږ ته وځلیږي
ځکه د ولس توپانونه ما ځان ته رابلي

او له ځان سره مې وړي
د ولس توپانونه ما له ځان سره مخې ته کاږي!
ای اربابانو!
که زړه مې ځيري ځيري
او ستونی مې زندۍ زندۍ کړی
زه شاعر به بيا هم فرياد کړم:
د ولس په لاره روان يم
همدا اوس او د تل لپاره
زه چمتو يم
چې له مرګ سره مخې ته لاړ شم.

## هيله

لاسونه مې پړ يوه، ځمکه قلبه کوم
کلونه کيږي چې همدا مې کار دی
نو ولې بايد ستومانه نه شم؟
پتنګان الوزي
ګونګوټی جير جير کوي
پوټکی مې توريږي
لمر يې سوځوي، سوځوي، سوځوي
خوله زما وجود توږي
او زه ځمکه
بی له کومه ځنډه تورږم.

کله چې د يو بل ستوري ځلا وينم
په هيلي باور کوم
او ځان ته وايم
لا ناوخته نه دی
کوتره به والوزي
او زما سوکانو ځنګه چې يوه يې کلکه نيولې
هيله به هم ټينګه ونيسي
هغه هيله: چې ټول شيان به يوه ورځ بدلون ومومي...

## د رڼا ډک باغونه

ستا آواز غنم او جوار وو
د بزګر لاس
د مس روح
ډوډۍ او سکاره
د وخت او لمر اولاد
ستا ترانه د اوسپنې يو ګل وو
د ولس فرياد

د زیارکښ په موټې کې وسله
او د شمال او سویل باد
ته د هغه زرګونو نورو انسانانو سره ووژل شوی
کله چې درد وزیږید
زړه دې لور ډوله د ژوند سوروالی ته خلاص شو
او همدا وو چې خلکو ته وکړلې
ته د هغوی د رڼا ډک باغونه یې
د هغوی د مبارزې او د مینې نښه یې
د چیلی سرود به ته یی
ویکتور!

## هر څوك هم رزمه، هم قهره، هم رنځه لري

هر څوك هم رزمه، هم قهره، هم رنځه لري
هر څوك هم بزمه، هم لاسی، هم ګنجه لري
هغه چې له تا سره
له تا سره
هم رزمه دی
غواړې له تا سره پر غلیم بریالی شي
هغه چې له تا سره هم قهره دی
غواړې له تا سره فریاد کړي: موږ پر حقه یوو!
هغه چې له تا سره هم رنځه دی
په دې پوهیږې چې څوك ستا رنځیدل غواړي
خو له هغه سره چې
هم بزمه نه یې
ستا د اولاد وینه څښي
خو له هغه سره چې
هم لاسه نه یې
لینګته درکوي چې له پښو وغورځیږی
او په خپله لاسبری پاتی شي
خو له هغه سره چې
هم ګنجه نه یې
درته وایي
ستا رنځ زما ګنج دی
ته که ستومانه ووسئ
زه آباد یم
ته که بندي ووسئ
زه آزاد یم
هغه چې ستا هم ګنجه دی
درنه پوښتنه کوي
ستا رنځ د چا ګنج دی - بی له تا نه؟
زمونږه رنځ د چا ګنج دی - بی له مونږ نه؟
نو وسله جوړه کړه
جوړه له غرور او کرکې

او همرزم ته دې فریاد کړه:
تل دې وي زمونږه رزم
بلیندې دې وي زمونږ قهر
راتلونکې دې وي زمونږ ګنج!

## کارمینسیتا، چا ووژله؟

د ښکلو اتو شوو جامو سره
د اندیښنې نه رپیږي
او اوښکې یې تویږي.

لیرې، چیرې جرسونه او سپې انګولاوې کوي
پارکونه تور تورم او ښار بیده دی.

یوازې پنځلسه کلنه وه چې ژوند یې مړاوی شو
په کور کې ځپل شوی او په ښوونځي کې ستومانه
د راډیو په څپو کې
ورځني خیالونو او بتانو د هغې سترګې ړندې کړی.

په مجلو کې چیرې چې د ساړه خیالونو پلورونکې
له ځوانانو ګټه پورته کوي
د هغې هیلې منحرفې او دروغ یې ورته وپلورل
دروغجنه خوشالي، مینه او هوس یې ورته وپلورل.
یوازې پنځلسه کلنه وه چې ژوند یې مړاوی شو.

وتښتیده، کارمینسیتا مړه شوه،
پر قبر یې سره ګلونه وغوړیدل
لاړه چې خپله آخري هیله پیدا کړي.

نه پوهیده چې هغوي ورته زهر ورکوي
دا ټولې افسانې
دا د چرسو نړۍ او د لامبو حوضونه،
د برینیف انټرنیشنل سره د میلې لپاره مسافرتونه د هغې لپاره نه دي.

نړۍ یې، ګاونډې «پیلا» ته ورته وه
ځپیلتیا او د فریادونو کوڅې
له تنګو او ارزانه کورونو سره
او په پخلنځې کې کار
چیرې چې باید مړه شوې وای
څو نور بدایه شي.

ورځپاڼو ولیکل: نامعلومه پیښه!

وتښتیده، کارمینسیتا مړه شوه،
پر قبر یې سره ګلونه وغوړیدل

لاړه چې خپله آخري هيله پيدا کړي.

## د معدنچيانو ښټك

ما ستا په خلاصو لاسونو کې
خپل ترانه وهونکی ګيتار کيښود
دا د معدنچيانو ښټك
دا د بزګرانو يوه
*
«ريکابارين»*
«ليوس ايميليو ريکابارين»
زه واقعاً ستا د رڼا منندوی يم
*
ستا آواز لکه سيلۍ
له باد سره
د «پمپاس»** له باد سره
په مرکز او سويل کې ښپې وهي
*
اې د پرتمينو هيلو ونې
ته په لمر کې وزيږيدلې
ستا ميوه رسيدلې او اوس د آزادۍ ترانه وايي.
*
«ريکابارين»
«ليوس ايميليو ريکابارين»
زه واقعاً ستا د رڼا منندوی يم.

* ليوس ايميليو ريکابارين د چيلي د کارګري غورځنګ مشر
** پمپاس د انديس غرونو يوه لويه وادي ده.

## د سولې ترانه

که ښټك مې لرلی
په ټول هيواد کې مې
سهار ټکاوه
شپې ټکاوه
د خطر په وړاندې ويښ
مونږ بايد له سولې نه د دفاع لپاره
متحد شوو
*
که ناقوس مې لرلی
په ټول هيواد کې مې
سهار غږاوه
شپې غږاوه

د خطر په وړاندې ويښ
مونږ باید له سولې نه د دفاع لپاره
متحد شو.
*
که ترانه مې لرلی
په ټول هیواد کې مې
سهار ویله
شپې ویله
د خطر په وړاندې ويښ
مونږ باید له سولې نه د دفاع لپاره
متحد شو
*
اوس،
هم څټك لرم
هم ناقوس لرم
او هم په ټول هیواد کې د ویلو لپاره یوه ترانه لرم
د عدالت څټك
د آزادئ ناقوس
او د سولې ترانه
هو، د سولې ترانه!

## د ژوندانه حق

د ژوندانه حق
هغه پیغام دی
چې شاعر هوشی مین یې
له ویتنام څخه ټول بشریت ته ورکوي.
یو تونل به هم نابود نشي
ستا د شولو د کروندو قلبه به ونه دریږي
سوله ایزه ژوند، زمونږه حق دی.

هندوچین
د سرور سمندر هاخوا
هغه ځای دی چیری چې دوې ګلونه
د ډله ایزی وژنې او ناپالم سره منفجروي
سپوږمۍ هغه انفجار دی
چې ټول فریادونه ویلی کوي
سوله ایزه ژوند، زمونږه حق دی.

کاکا هوو، زمونږ ترانه
د ځلانده اور مینه ده
له کوترو څخه یوه کوتره
د زیتونونو د کروندې یوه ونه
یوه نړیواله ترانه
هغه ځنځیر چې بریا جوړوي

سوله ایزه ژوند، زمونږه حق دی.

## ګامونه

ګامونه
ګامونه
ځم د ازادۍ په لټه
هیله مندیم چې هغه لاره به پیدا کړم
چې وربانديې ګام ووهم
ګام.
دا ستونزمنه ده چې په سیورې کې رڼا پیدا کړی
کله چې ځلانده لمر حقیقت په ترږمه کې پټ کړی
څومره وخت مخکې زه باید رارسیدلی وی
څومره نور باید زه لاړ شم
څومره نور باید ګامونه ووهم
څومره نور ګامونه
ګامونه
ګامونه.

## د پوکونو په دره کې

د پوکونو په دره کې
چیرې چې بادونه سیندونه پریشانوي
چیرې چې باران ایلنې خړوبوي
هلته آنجلیتاهیونومان ژوند کوي
د څېرېو او د شرغشو په منځ کې
د سنځلو په ګړنګونو او د غرنۍ سروو په منځ کې
د وحشي عطرجنو ګلونو په منځ کې
آنجلیتاهیونومان ژوند کوي
پنځه سپي
او یو زوي چې د مینې یادګار یې دی
د آنجلیتا ساتنه کوي
او د هغې د کوچنې کروندې په شان
نړۍ یې د هغې شاوخوا څرخیږي
د کپی هیو د سروګلونو وینه
د هغه په وینو کې منده وهي
د پنجرې د پیتاوې تر څنګ
آنجلیتا خپل ژوند اوبدي
لاسونه یې په تاروپود کې نخیږي
لکه د یوې کوچنې مرغۍ د وزرو په شان.
کوم ګل چې اوبدي له معجزې ډک دی
آن کولای شئ بوي یې کړی

آنجليتا! ستا په اوبدني کې
ستا ژوند نغښتی
خوله دې نغښتي
او اوښکې دې نغښتې.
ستا ناشناسه لاسونه
د پنځوني هغه خالق لاسونه
د میاشتو کار وروسته
د پلورني لپاره یوه بی ساري ښکلی روجايي اوبدي
چې په قفس کې د یوې مرغۍ په شان
د غوره پیرونکي لپاره سندره وايي.

## د خلکو زوي

ای د خلکو زویه، د ظلم ځنځیرونو ته راچاپیر کړی یې
خو دا بی انصافي به تل ادامه و نه مومي
که ژوندون دې ډك له ویر وي
او ته هم برده ووسئ،
ښه به دا وې چې مړ شی
دا بی حده خودخواه پانګوالان
چې د انسانانو له دردونو بی خبره دي
د مبارزینو لخوا
به د آزادۍ په پیاوړي شعار کې نابود کړای شي!
آه، ای سرو بیرغونو
نور زغم مه کوئ!
استثمار باید
پای ومومي
ای ژمنو خلکو
د تولنیز انقلاب په شعارونو کې راپاخیږئ.
دفاع وکړی
تاسو هیڅ څه له لاسه نه ورکوئ.
یوازې پیوستون
د بریا لاره ده
او زمونږ د دفاع پیاوړي سپرونه
ماته نخوري
چټله بورژوازي
نابودیږي!
نابودیږي!
د کارګري طبقي زړه
چې زمونږ د اصولو لپاره دربیږي
هغه وخت به له ښادی ډک شي
چې مونږ په لیوالتیا او پیوستون
د بریا لپاره مبارزه وکړو
هو، بریا زمونږه ده!
او بورژوازي به نور د پرولتاریا سره په ویاړني چلند وکړي

او زمونږه مبارزه به د دوي احمقانه بدچلندئ په یاد ولري
هو، زمونږ سره بیرغونه.....

## ګیتار

فرهاد ویار

متې مې پرې
په سکروټو کې
وریتیږي
ګیتار مې مات
ګوتې مې په لمبو کې
سوځیږي
ترانه زما پر شونډو
زړه مې په وینو کې لمبیږي.

شیطان،
چاړه راکاږي زما پر متو
په ملنډو چیغه وهي:
ګیتار؟!

دښمن
وریت زما د قهر په لمبو کې
سرود لالهانده زما په زخمي لیمو کې
ګیتار مې مسکې،
شونډې مې خوځیږي
ګوتې مې نڅیږي:
«مونږ به بریالي شوو!»

**"سیند خپرندویه" خپاره کړي دي:**

**۱.د کمونیزم اصول، فریدریش انګلس، ژباړه:فرهاد ویاړ**
**۲.دیالکتیک ماتریالیزم د ځوانانو لپاره، رضا قربانی، ژباړه: مرینه سحر**
**۳. د یوه شاعر اندیښني، احمد شاملو، ژباړه: فرهاد ویاړ**
**۴.یو شعر چې کرکه ده، پاڅون دی او انتقام ـ سپیڅلی**
**۵.مور مي ښکلي نشوه، رضا فرمند، ژباړه: فرهاد ویاړ**
**۶.مارکسیزم او رفورمیزم، و.ا.لنین، ژباړه: هاشم سهار**
**۷. لیوهولان ـ یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!، ژباړه: فرهاد ویاړ**
**۸. د شناخت په اړه یو څو خبرې، صمد بهرنګي، ژباړه: څرک**
**۹.ارنستو چه ګوارا، م.بنامین، ژباړه:فرهاد ویاړ**
**۱۰.اولدوز او کارغان، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي**
**۱۱.کوراوغلو او ګنجی حمزه، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي**
**۱۲. د دیالکتیك ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم په اړه، ی. و. ستالین، ژباړه: فرهاد ویاړ**

**خپرېږي:**

**مخکښ شهید**



۱۳۹۰